* ولكن الله حبب اليكم الايمان وزينه في قلوبكم * خوالله (ج) تاسوسره ايمان غوره او محبوب کړ اوستاسو په زړه کي بي دايمان په نسبت محبت راپيدا کړ * زينه في قلوبكم * اوستاسو په زړونو کي ښايسته کړ * وكره اليكم الكفر والفسوق والعصيان * اوتاسي لره ئي کفر، فسوق ، سرکشي اوعصيان کرك جن کړل، داسي چي تاسوله کفر، فسق اوعصيان نه کرك اونفرت لري، ايمان تاسوته غوره اومحبوب دي، اواکثره صحابه همدغسي ووچي منتظروو وګوري پيغمبرعليه السلام په دي باب څه فيصله کوي * اولئك هم الراشدون * همدا دوي هدايت شوي دي ، اودکمال مرحلي ته رسيدلي .* فضلا من الله ونعمه * دالله له لوري فضل اونعمت دي، دغه کسان چي ايمان ورته محبوب شوي اوغوره شوي ، په زړونوکي ئي ځاي مونډلي، اوکفر، فسق اوعصيان ورته کرکجن شوي ، دالله (ج) دپيرزويني اودفضل په وجه هغوي دغه مقام ته رسيدلي دادالله (ج) پيرزوينه ده ، چي دچاپه حال ئي شامل کړي ، دکفر ، فسق ، سرکشي ، اوعصيان په نسبت دهغه په زړه کي کرکه اونفرت راپيداکري او دايمان په هکله دهغه په زړه کي مينه اومحبت وي ، ايمان ورته غوره اوښايسته وي *والله عليم حكيم *اوالله (ج) پوه اوحكيم ذات دي، په دي پوهيږي چي څوك ددي وړدي ،چي هغه درشداو کمال دي مرحلي ته ورسوي ، اوحكيم دي، دهغه هره فيصله په حكمت مبتني ده ، په دي پوهيږي چي څنگه يوڅوك دايمان دغي مرحلي ته ورسوي چي درشد اوكمال هغه آخري حدته ئي ورسوي .

دهغه په حال خپل فضل اونعمت شامل کړي .

* وان طائفتان من المؤمنين اقتتلوا فاصلحوا بينهما : اوکه دمومنانو دوه طايفي په خپلومنځونو کي وجنګيږي * فاصلحوابينهما * نودهغوي ترمينځ صلحه وكري ، روغه جوړه وکړي، لمړي هدايت دادي چيرته چي دمومنانو ددوو ډلو ترمينځ جنگ ونښت ، تاسوبايد بي تفاوته اوبي اعتنائه پاست ، بلکه خامخا به مداخله کوي، خوددي مداخلت نه به موهدف داوي چي دهغوي ترمينځ روغه جوړه وکري دلته ويل شوي چي که چيرته دوه طايفي دمومنانو يعني داخودمومنانو له شان نه لري خبره ده چي هغه دي په خپلومينځونوکي وجنګيږي . خوکه چيرته دغسي واقع شول، چي دمومنانو دوه ډلي په خپلو مينځونوکي وجنګيږي ، ددي امکان شته چي چيرته دواړه طرفه مومنان وي او ديوبل پرخلاف وجنګيږي ، يوه حادثه ، يوه فتنه ، ددي باعث شي چي دهغوي ترمينځ جنګ ونښلي ، دغسي ځيني فاسقان دهغوي ترمينځ خبري اتري بښکنه پورته کړي اودهغوي ترمينځ د جنګ باعث شي په ناپوهي کي خبره دي حدته ورسيږي چي ديوبل په خلاف توره واخلي دهغوي ترمينځ جنګ پيل شي . لمړي ويل شوي چي که چيرته دمومنانو دووطايفو ترمينځ جنګ ونښلي دلته دطايفي ذکرشوي دي، طايفه يوړوې ډلي ته وائي ، دامحال دي، چي دمسلمانانو لويي لويي فرقي دي لويي لويي ډلي دي په خپلو مينځونو کي وجنګيږي که چيرته يوه وړه ، دوه وړي، طايفي په خپلو مينځونو کي درګيرشي، دهغوي ترمينځ جګړه پيل شي ، نودنورو مسلمانانو لپاره په کاردادي چي بي تفاوته نه وي ، بايد دروغي جوړي او دصلحي کوښش وكري .

فان بغت احداهما على الاخرى که دسولي نه بعد له دوي نه يوي ډلي پربلي تيري وکړ * فقتلوا التي * پس وجنګيږي دهغي ډلي سره چي بغاوت بي کړي * حتي تفيء الى امرالله * ترڅوچي دالله (ج) امراوحكم ته بيرته راوګرځي ، نه يوازي بي تفاوته به نه پاست ، بي طرفي به نه اختياروي، بلکي مداخله به کوي، دروغي جوړي کوښش به کوي اوکه چيرته يوي ډلي بغاوت وکړدسولي او روغي جوړي نه بعد نوددي باغي ډلي سره بايد حتیٰ جنګ وکري، دمظلومي ډلي بايد مدافعت وکري ، هغه ډله چي په حق ده ، دهغي مرسته وکري، هغه چي تيري اوتجاوزکوي، دهغي پرخلاف بايد وسله واخلي او وجنګيږي ، خوددي جنګ هدف به داوي ، چي له هغونه انتقام واخلئ، يا هغوي ته جزاورکري، دهغوي پرخلاف ـ داجنګ هغوي ته دجزا ورکولو لپاره نه دي بلکه دالله (ج) امراوحكم ته هغوي معتادکول اوتابع کول دي دابي اصلي مقصددي . که چيرته هغوي دخپل بغاوت اوسرکشي نه لاس واخلي اودالله امرته تابع اومعتادشي، بايد جنګ دهغوي پرخلاف متوقف شي، * فان فاءت فاصلحوا بينهما بالعدل واقسطوا * پس که هغوي راوګرځيدل، نودهغوي ترمينځ سوله وکري په عدل اوپه قسط سره ، که دي باغي ډلي دخپل بغاوت اوتيري نه لاس واخيست اودالله (ج) امرته راوګرځيدل، غاړه بي کښيښوده ، فيصلي ته منقادشوه ، نوتاسو دهغوي ترمينځ په عدل سره حكم وکري اوقسط مراعات کري، دعدل معني داده چي مدعي اومدعي عليه برابروګڼلي شي اودقسط معني داده چي حق حق دارته وسپارلي شي . دلته دعدل اودقسط ذکرشوي دي دواړه يوشي نه دي ، دواړو ترمينځ فرق دي، دعدل معني داده چي، دقاضي په وړاندي مدعي اومدعي عليه ولاړ دي ، له هغه سره بي بايد معامله برابره وي، يوه ته به پربل ترجيح نه ورکوي، دواړه به برابرګڼي، حتیٰ که يودمسلمانانو اميروي ، اوبل يهودي هم وي ، حضرت علي کرم الله وجهه ديويهودي سره دخپلي دعوي دحل اوفصل له پاره دقاضي په وړاندي برابر ولاړدي، قاضي هغه ته په کنيې سره په لقب سره خطاب کوي اويهودي په خپل نامه يادوي، حضرت علي کرم الله وجهه په دي ناراضه کيږي اووايي چي تاعدل ونه کړ، په کنيې سره دي دهغه يادولو معني داده ، چي هغه ته داحترام لهجي سره خبره کوي اوزه خپل نامه سره دهغه يادولو معني داده چي تافرق وکړ، قاضي مکلف دي چي مدعي اومدعي عليه به برابرګڼي که څه هم يواميرالمؤمنين وي دحضرت علي کرم الله وجهه په شان شخصيت اوبل يهودي وي، ددين تر ټولو خطرناك اوستر دښمن ، قاضي مکلف دي ، چي ددعوي دحل اوفصل په دوران کي دواړه برابر وګڼي . فاصلحو بينهما بالعدل . سوله او روغه جوړه وکري دهغوي ترمينځ په عدل سره داپو جز، * واقسطوا * اوقسط وکري ، دقسط معني داده چي حق حقدارته وسپارلي شي ، په حق مبتني فيصله وکراي شي، دحق دارحق تلف نشي. له دي آيت نه معلوميږي چي سوله هغه ده چي په عدل مبتني وي سوله صرف روغي جوړي ته نه وايي چي دمظلوم حق تلف شي اوظالم او زور ګوته زيات امتيازورکړشي ، هغه سوله چي په ظلم مبتني وي اوهلته عدل پايمال شوي وي هغه پايه داره اودوام داره سوله نه ده . سوله دي ته نه وائي چي ته فقط دمدعي اومدعي عليه ترمينځ ، دظالم او دمظلوم ترمينځ روغه جوړه وکري اوجنګ ختم کري، نه هغه سوله چي اسلام بي غواړي هغه بايد په عدل اوپه قسط بناشوي دي، داسي نه چي قاضي دظالم ، متجاوزاوزورګو ترتابېرلاندي راشي اوهغه ته نورزيات امتيازات ورکري، دمظلوم حق پايمال شي اودهغوي ترمينځ جنګ متوقف شي اودي ته سوله‌او روغه جوړه ووايو. نه ! پس پايه داره اوواقعي سوله داده چي حق په عدل او قسط بنا وي، اوحق حقدارته وسپارل شي ، که حق حقدارته ونه سپارل شي، يوڅوك مظلوم دي، حق بي پايمال شوي، چاره نه لري، فيصله شوي، مجبوردي چي هغه ومني، په دي ترتيب سوله نشي تامينيدلي ، هغه هروخت چي دخپل حق دترلاسه کولو موقع ترلاسه کري اولاس بي برشي خپل حق به ترلاسه کوي په دي ترتيب سوله نه راځي اومنتهي جنګ موقتاً متوقف کيږي ، بلکي دجنګ عوامل په خپل حال پاته کيږي ، که څوك غواړي چي واقعي صلحه تأمين شي جنګ پاي ته ورسيږي ، واواوامن قائم شي، داله دي ته پرته نشي قائميدلي ، چي پرعدل اوقسط فيصله ونه شي، سوله بايد په عدل اوقسط مبتني وي، ان الله يحب المقسطين . يقيناً چي الله (ج) مقسطين دوست ګڼي له مقسطينو سره مينه ساتي څوك چي په خپلو قضاوتونو کي دقسط مراعات کوي الله (ج) له هغوي سره مينه لري، دقيامت په ورځ به مقسطين دالله (ج) بني خواته دنوردمنابرو په صف کي وي . څوك چي په دنيا کي دقسط مراعات کوي دقيامت په ورځ به دالله (ج) په څنګ کي دنوردمنابرولاندي ناست وي دهغوي مقام اومنزلت دخداي (ج) په وړاندي دومره اوچت دي چي څوك په خپلو قضاوتونو اوفيصلوکي دقسطه مراعات کوي الله (ج) هغوي ته دومره قدراومنزلت ورکوي چي دقيامت په ورځ به دهغه بني اړخ ته دنوريه منابرولاندي ناست وي ، په دي باب علماوو دادمختلفو احکامو لپاره اساس ګرځولي اوپه دي کي به تفصيلي څيړنه شوي کله چي ددومسلمانوډلوترمينځ دجنګ حالت راپيداکيږي ، نو په دي هکله (قام کوم دي) دپيغمبر عليه السلام په دوران کي طبعي ده چي دمسلمانانو ترمينځ داداخلي جګړي نه دي شوي، په دي خاطر په دي باب دپيغمبر عليه السلام نه زيات روايات نه دي روايت شوي، جنګونو دحضرت علي کرم الله وجهه په وخت کي دمسلمانانو ترمينځ پيل شول، اويه همدي خاطرعلماوو دحضرت علي کرم الله وجهه له تګلاري اوصحابه و ودروش نه په هغه وخت کي چي دمسلمانانو ترمينځ داداخلي جګړونه پيل شوي له دي نه ئي احکام استنباط کري دمسلمانانو ترمينځ دجنګ څو صورتونه دي . لمړي صورت بي دادي ، چي دواړه ډلي ديواسلامي حکومت رعايا دي ، په دي صورت کي ددوي ترمينځ سوله او روغه جوړه يافيصله کول چي چاتجاوز کري اوددي متجاوزيه خلاف دطاقت استعمال او هغه حق ته مجبورول داول دحکومت وظيفه ده ، حکومت به داکار کوي، په هغه صورت کي چي دواړه درګيرا ړخونه ديواسلامي حکومت رعاياوي ، داسلامي حکومت لاندي ژوند کوي ددوي ترمينځ روغه جوړه اودمتجاوزيه خلاف دقوت استعمال دادحکومت وظيفه ده . دوهم صورت بي دادي چي دواړه درګيري ډلي دوه لويي طاقت ووي ډلي وي، يادواړه دمسلمانانو ملکونو حکومتونه وي، او ددواړوجنګ هم ددنيا په خاطر وي، نه دکوم الهي مقدس هدف لپاره ، بلکه داقتدارلپاره يادونيايي اغراضو په خاطر ديوبل په خلاف جنګيږي ، په دي صورت کي دايمان خاوندانو لپاره په کار دادي چي په دي فتنه کي برخه وانخلي اوله دي نه په شدت سره ډډه وکري، دواړو طرفونوته الله (ج) وربه يادکري له الله (ج) نه بي وويروي ، نصيحت ورته وکري، ترڅودجنګ نه لاس واخلي، خوعملا به په دي کي برخه نه اخلي بل صورت بي دادي چي دواړه ډلي ستري ډلي وي، خويو له دغو دواړونه په حقه وي اوددهسي تيري اوتجاوزکري وي، خويه نصيحت سره هم دهغوي مسئله نه شي حل کيدلاي ، اوددي ته هم نه وي تيارچي روغه جوړه وکري په دي صورت کي دايمان خاوندانوته په کار دادي چي دهغي ډلي ملاتړوکري چي په حقه ده اودمتجاوزي ډلي پرخلاف دهغوي مرسته وکري، بل صورت بي دادي چي يوه ډله بي رعيت وي اوبل طرف بي حکومت وي، يعني ديومسلمان ملك دحکومت په خلاف خلك رااوچت شوي، دي حالت ته فقها خروج وايي اوخروج کوونکوته دباغي خطاب کيږي . باغي يعني هغه څوك چي دحکومت پرخلاف بي خروج کري وي . چي ددي څواقسام دي ، څو ډلي دي، يوه ډله هغه ده چي محض دفساد دخپرولو له پاره پورته شوي وي، اودخپل خروج اوبغاوت له پاره هم کوم شرعي تاويل ونه لري، ددغي ډلي په خلاف جنګ دټولو په اتفاق سره جائز دي، دمومنانو له پاره په کاردادي چي ددي حکومت مرسته وکري که داحکومت عادل وي اوکه نه وي ددي لپاره چي امن ختم نشي اوفساد خپورنشي ، فتنه راوچته نه شي نوددغي باغي ډلي په خلاف جنګ په کاردي، بله ډله هغه ده چي دحکومت دړنګولو لپاره ملا وتړي خوله هغوي سره کوم شرعي تاويل هم نه وي اودهغوي ظاهري حالت هم داسي ښيي چي داظالمان اوفاسقان دي په دي صورت کي که حکومت عادل هم وي نودهغه مرسته په کارده، اوکه هغه عادل هم نه وي ددي لپاره چي داحکومت په خپل حال پاته شي نوددغه فاسدي او فاسقي ډلي په خلاف چي بغاوت بي کړي اوامنيت خرابوي دهغه په خلاف جنګ واجب دي، بايد دهمدغه نظام مرسته وشي چي في الحال ئي په منطقه کي امن تأمين کري . بله ډله هغه ده چي دکوم شرعي تاويل په اساس دحکومت پرخلاف رااوچتيږي خودهغوي تاويل باطل وي او عقيده بي هم فاسده وي لکه د *خوارجو په شان* پدي صورت کي هم دمسلمان حکومت که هغه عادل وي يائه وي دهغه په څنګ کي ودريدل ضروري دي، بل صورت بي دادي چي ديوعادل حکومت په خلاف خروج وکري په داسي حال کي چي دهغه امارت هم په جائز طورقائم شوي وي که ددي ډلي سره کوم شرعي تاويل هم وي اوکه نه وي په هرصورت نودهغي پرخلاف جنګ واجب دي اوددغه حکومت چي په شرعي طورقائم شوي يعني خلکو ووسره له جبراو اکراه نه پرته بيعت کړي، خلکو انتخاب کړي ، ددي حکومت مرسته په کارده اودباغي ډلي که څه هم له هغوي سره کوم شرعي تاويل هم وي پرخلاف جنګيدل ضروري دي . بل صورت بي دظالم اوجابرحاکم په مقابل کي قيام کول دي په دي صورت کي دوي ته باغي ويل اودهغوي په خلاف جنګ واجب ګڼل په دي هکله دفقهاو ترمينځ اختلاف دي دجمهورو فقهاوواهل حديث رايه داده چي کوم امير چي دهغه امارت په شرعي طورقائم شي اودملك امن او امان بي قائم کري وي ، نظم اونسق تأمين شوي وي او نظم حاکم وي، که داحکومت عادل وي، ياظالم اوکه دهغه امارت په هرطور قائم شوي وي نودهغو پرخلاف خروج حرام دي مګرداچي دهغه نه کفربواه صريح کفرله هغه نه څرګند شي . امام سرخسي په دي باب وايي چي که مسلمانان په يوفرمانرواواوزعيم په خپلو مينځونوکي راغونډ شي اودهغه په وجه دوي ته امن ميسرشي، لاري محفوظي وي، تلوراتلو لاريي مصئوني وي ، کومه ډله چي په دي صورت کي ددي حکومت په خلاف خروج اوبغاوت وکري څوك هم چي ددوي پرخلاف دجنګ توان اوطاقت ولري، په هغوي باندي داواجب دي چي ددي فرمانرواباید مرسته وکري اودبغاوت کونکو په خلاف جنګ وکري .

بله ډله وايي چي دمسلمان اميريه خلاف خروج اودهغه په خلاف جنګ حرام دي که څه هم هغه فاسق اوظالم وي، خويه دي رايه باندي داجماع دعوي کول دادرسته نه ده . داسلام دفقهاوويوه لويه ډله چي په هغه کي داهل علم اکابرشامل دي، په هغه صورت کي خروج کونکوته باغي وايي چي ديوعادل امام پرخلاف هغوي قيام کوي دفاسق اوظالم حکامو او امراوو په خلاف دصلحاو اودنيکو خلکو خروج اوقيام ته بغاوت ويل دقرآن عظيم الشان ددي آيت مستحق نه دي اونه دهغوي په خلاف جنګ واجب دي امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دهغه مسلك دادي چي دظالمو امراو ويه خلاف نه يوازي هغه دالازم ګڼي بلکه خپله بي عملا برخه اخيستي عملاً هغه دغسي قيامونو کي شرکت کري دي ، مثلا دبني اميه پرخلاف دزيدابن علي په خروج کي هغه خپله مالي مرسته کري، نوربي تشويق کري دي ، چي دوي سره مرسته وکري، منصورپرخلاف دنفس ذکيه خروج کي هغه په پوره سرګرمي سره شرکت کري دي اودنفس ذکيه مرسته بي کري اويه دي قيام کي هغه عملا برخه اخيستي شرکت بي کري اوحتیٰ هغه په دغسي حالت کي جنګ دکفارويه خلاف ترجنګ نه هم غوره او بهترګڼلي، دوي وايي چي داحنافو مسلك دادي چي وايي دفقهاوويه نزدکي باغي هغه څوك دي چي دامام حق داطاعت نه سرکشي وکري اودهغه پرخلاف رااوچت شي، هغه چي په حقه امام وي، عادل امام وي، دهغه پرخلاف چي څوك را اوچت شوي دي نه بغاوت وايي، حنابله هم په همدي عقيده دي چي دغيرعادل امام په خلاف خروج جائزدي اودحضرت امام حسين (رض) په قيام باندي استدلال کوي لکه څنګه چي حضرت امام حسين (رض) ديزيد پرخلاف رااوچت شو، دغسي دهريزيداوظالم په خلاف قيام هغوي جايز ګڼي .

امام شافعي وايي : باغي هغه څوك دي، چي دعادل امام پرخلاف دجنګ اعلان وکري ، يعني دامام عدالت شرط ګڼي، په هغه صورت کي چي امام عادل وي اوڅوك دهغه پرخلاف اوچت شي، بيادباغي حكم پرده بادوي؟ کيدلي شي . دامام مالك مسلك هم دادي چي که خروج کونکي دعادل امام پرخلاف جنګ پيل کري ، په هغه صورت کي دي دهغه پرخلاف جنګ وشي، يعني داشرط لګوي چي که امام عادل وي اوڅوك دهغه پرخلاف بغاوت وکري په هغه صورت کي بيادهغه پرخلاف جنګ واجب دي ، دامام مالك داقول رانقل کوي چي کله ديو امام سره بيعت وشي، بيادهغه کوم وروردهغه پرخلاف رااوچت شي، يوڅوك دهغه مقابله کوي دهغه په خلاف ودريږي په هغه صورت کي دي دهغه په خلاف جنګ وشي چي داامام عادل وي دازموږ دزماني ايمه ، نه دهغوي بيعت بيعت دي څکه هغوي په زور اوپه جبرسره له خلکوته بيعت اخيستي دي يعني دازموږ دزماني ائمه اوامرا چي دي په جبراو زوورسره دخلکونه بيعت اخيستي داددي ورنه دي چي دهغوي په څنګ کي څوك ودريږي اوڅوك چي دهغه په خلاف راپورته شوي وي ، دهغه پرضدډي جنګ وشي ، له دي نه معلوميږي چي يعني باغي هغه څوك دي چي دعادل امام په خلاف جنګ وکري که دخروج کوونکو شمير کم وي اودهغوي ترشابولوي قوت هم نه وي يعني دخلکو يوه لويه ډله دهغوي ترشانه وي ولاړه اوزيات جنګي ساز اوسامان هم ونه لري نويه دوي باندي دبغاوت اطلاق نشي کيدلي ، بلکي دهغوي سره دتعزيراتود عام قانون مطابق بايد عمل وشي يعني که هغوي قتل وکي ، بايد قصاص شي که چاته بي دمال تاوان ورساوه ، بايد له هغه نه تاوان واخيستلي شي دبغاوت دقانون اطلاق به هغوباغيانو باندي کيدئ شي چي لوي طاقت ولري او په زيات شميرسره دپوره جنګي وسايلو سره هغوي قيام کري وي اوخروج بي کري وي، چي له هغه نه دنظام دړنګولو خطره‌وي دي حالت ته بغاوت وائي امادا چي محدودټولګي دکموو سايلو سره دکم شمير سره راپورته شوي وي دابايد دتعزيراتو دعام قانون مطابق له هغوي سره مقابله وشي ، ترکومه وخته پوري چي خروج کونکو دخپلي فاسدي عقيدي اودحکومت پرخلاف خپل باغيانه عمل اومخالفت اظهارکوي اوعملا بي کوم اقدام نه وي کري، نونه هغه قتل کيدي شي اونه محبوس کيدي شي ، چي مجرد خپل خيالات اظهاروي ، عملا بي کوم اقدام نه دي کړي اوفقط په همدي بانکي اكتفا کوي چي خپل حقايق څرګندوي او معاندانه اومخاصمانه خيالات ، نظريات څرګندوي ترهغه وخته پوري چي صرف تبليغات کوي اوعملا بي وسلې ته لاس نه دي کري بغاوت بي عملا نه دي پيل کري نه هغه څوك قتلولي شي اونه بي بندي کولي شي، صرف په هغه صورت کي بايد دهغوي پرخلاف جنګ پيل شي

چي عملاً هغوي مسلحانه بغاوت شروع کري اوخونريزي پيل کري قرآن پاك موږ ته هدايت کوي چي دباغيانو په خلاف دجنګ پيل کولونه دمخه بايد لمړي هغوي ته دعوت ورکري شي که هغوي دبغاوت لاريريښودله دعدل لاره بي اختيارکړه اودهغوي څه شبهات اواعتراضات وو، نوهغه بايد رفع شي بايد ددغه اعتراضاتو درفع کولو کوښش وشي که ددي سره سره هغوي له خپل بغاوت نه لاس وانه خيست اوجنګ هغوي شروع کړ، له هغه بعدبايد دهغوي پرخلاف وسله اوچته شي ، دباغيانو پرخلاف چي دکوموضوابطو اومقرراتو مراعات بايدوشي . دحضرت پيغمبر عليه السلام په دي ارشاد باندي بنادي، چي حضرت عبدالله ابن عمر(رض) هغه روايت کوي چي وايي : پيغمبر عليه السلام دحضرت عبدالله ابن مسعود (رض) نه تپوس وکړ چي آيا پوهيږي چي ددي امت دباغيانو په نسبت دالله (ج) حکم څه دي هغه وويل چي الله (ج) اودهغه رسول بنه پوهيږي؛ پيغمبرعليه السلام وفرمايل چي دهغوي زخميانو ته بايد لاس وانه چولي شي ، هغوته صدمه ونه رسيږي ، بنديان بي په قتل ونه رسيږي ، بايد دهغوي هغه کسان چي تيښتي اوسنګرپريږدي دجنګ نه لاس اخلي ، دهغوي بايد تعاقب ونه شي، دهغوي نه چي څه پاته شوي دابايد غنيمت ونه ګڼلي شي اودغنيمت په شان تقسيم نشي ، ددغي ضابطي بل مؤخذ دحضرت علي کرم الله وجهه داقول دي چي دجمل په جنګ کي هغه اعلان وکرچي څوك تيښتي بايد دهغوي تعاقب ونه شي، په زخميانو بايد حمله ونه شي، هغوي ته صدمه ونه رسيږي څوك چي تسليم شوي هغه بايد په قتل ونه رسيږي ، چاچي وسله کيښودله هغه ته بايد امان ورکري شي او دخلکو کورونو ته بايد ننه نه وځي، ښځوته بايد څه ونه وايي ، که څه هم هغوي دباموټو پرسر ولاړوي اوتاسوته بکنځلي کوي، دهغه ديوځ څېنوخلکو دامطالبه وکره چي بايد ددغوباغيانو زامن غلامان وګرځولي شي اودخلکو ترمينځ تقسيم شي په دي باندي حضرت علي کرم الله وجهه سخت په غوسه شو او وي ويل چي له تاسونه څوك غواړي چي ام المؤمنين حضرت عايشه (رض) دهغه په برخه شي . يعني په جنګ کي چي څوك اسيرنيول شوي نودهغوي دتقسيم اودغلامانو په حيث خلکوته دويشلو په دي رابي باندي حضرت علي کرم الله وجهه دومره غوسه شرچي دغسي يو عکس العمل بي ونبووده . دحضرت علي کرم الله وجهه له رويي نه دامعلوميږي چي دباغيانو نه چي کوم اموال پاتي شوي که څه هم دهغوي په لښکرکي خلکوته په لاس ورغلي وي بايي په کورونو کي ورته پاتي وي که داړونډي وي بايد قتل رسيدلي وي په هرحالت کي بايد دهغوي مال غنيمت ونه ګڼلي شي اوپه پوځ کي تقسيم نشي ، که دکوم مال نقصان شوي ددي هم تاوان له هغوي نه نه اخيستل کيږي ، چي کله هم بغاوت ختم شي ، دهغوي زوراوقوت ختم شي بايد دهغوي مال بيرته هغوي ته مستردشي که دجنګ په دوران کي دهغوي وسله اوسپرلي اونور وسايل په لاس راشي په جنګ کي له هغه نه استفاده کيدلي شي خوداډاتحيتو ملکيت نشي ګڼل کيدلي اودغنيمت په شان نشي تقسيميدلي او کله هم چي دامحسوس شي چي نور ددي انديښنه اوتشويش نه دي په کارچي له دوي نه به بيابغاوت واقع شي نودهغوي مال بيرته ورته مسترد کيږي ، يوازي دامام ابويوسف رايه داده چي حکومت کولي شي داغنيمت وګڼي ددوي نه چي څوك نيول شوي بايد په دي عهد سره خوشي کري شي چي بيا به بغاوت نه کوي امادا چي دباغي سرقطع شي يامثله شي يايه دار ځوړند شي ، لاس اوپښي بي قطع شي دادکافرانو سره هم نه دي جائز ، څه داچي له مسلمانانو سره ، اودکافرمثله کول هم نه دي جائز . څه داچي يوجاداسلامي حکومت پرخلاف بغاوت کري وي، بيادي له هغه سره دامعامله وشي، دجنګ په دوران کي چي دباغيانو له خوادمال اوځان کوم تاوان خلکوته رسيدلي چي جنګ ختم شي اوامن قائم شي ، نه ددي قصاص شته اونه به له هغونه بدله اخيستل کيږي . نه هم دکوم مقتول بدله له هغوي نه اخيستل کيږي ، ددي جنګ په دوران کي چي څوك په قتل رسيدلي ددي بدله به هم نه اخيستل کيږي ، دمال تاوان هم په هغوي باندي نه وضع کيږي دادديله پاره چي بيادافتنه پيل نه شي، دفتني غلي کولو له پاره او بيابي دسرنه راوچتولو په خاطر بايد ددي ټولو خبرومراعات وشي، په کومو منطقو باندي چي دباغيانو قبضه شوي اوهلته هغوي نظم اونسق قائم کري دخلکونه بي ذکات اخيستي چي کله هم دهغوي سلطه پردي منطقو ختمه شوه ، دوباره دخلکونه ذکات اخيستل دانه دي جائز ، بايد پرهمغه اکتفاوشي، که باغيانو داذکات په شرعي لارو کي مصرف کري دالله (ج) په نزدکي هم داحق اداشوي دي او که نه وي هم دهغوي معامله دالله (ج) سره ده دوباره دهغوي نه دذکات وصولول اوعشر اخيستل داصحيح نه دي، باغيانوچي دخپل تسلط لاندي کوم محاکم قائم کري که دهغو قاضيان عادل وي اوعدل بي کري وي نودهغوي فيصلي به په خپل حال پاته کيږي اوپه هغي کي به تغيير او تبديل نه راځي که څه هم دافيصلي دباغيانو په نسبت وي خوکه دهغوي فيصلي غيرشرعي وي چي کله هم اسلامي حکومت قائم شي اوهلته محاکم برقراره شي بايد داقضاياوي راجع شي همغه عدالتونوته چي هغوي په دي باب قضاوت وکري، دباغيانو شهادت په اسلامي محاکمو کي قابل دقبول نه دي څکه هغوي حرص کري ديو اسلامي حکومت په خلاف بي بغاوت کري دي په دي خاطر دهغوي شهادت دمنلو ورنه دي، ورورسته الله (ج) فرمايي * انما المؤمنون اخوة فاصلحوابين اخويكم واتقوالله لعلكم ترحمون * خبره داده يله نه ده چي مومنان ديوبل وروڼه دي نوتاسو دخپلو دوو ورونو ترمينځ سوله وکري * واتقوالله * اوله الله (ج) نه ووېريږي * لعلكم ترحمون * مسلمانان ديوبل وروڼه دي دهغوي ترمينځ دوروروګلوي رابطه ده ، که چيرته شيطان دهغوي ترمينځ جنګ راپيداکري نوستاسو وظيفه داده چي دخپلو دوو ورونو ترمينځ روغه جوړه اوسوله وکري خود سولي په دوران کي بايد متوجه وي چي دالله نه وويريږي واتقوالله بايد حق حقدارته وسپاري اوعادلانه فيصله وکري دسولي او روغي جوړي دتأمين په دوران کي بايد دالله (ج) نه ويره ولري ترڅويه تاسو باندي رحم وشي* واتقوالله لعلكم ترحمون* اوله الله (ج) نه وويريږي ترڅويه تاسو باندي ترحم وشي پس دمسلمانانو ترمينځ دوروري رابطه ده هغه به ظلم نه کوي هغه به يوازي نه پريږدي هغه به تحقيروي نه اودهغه به مرسته کوي پيغمبر عليه السلام فرمايي چي مسلمانان ديوبل په نسبت داسي دي لکه سرډجسد په نسبت لکه داسرچي دجسد دهري عضوي درد احساسوي مسلمان هم بايد په اسلامي اجتماع کي دنورومسلمانانو په نسبت همدغسي دنورو په درد، دردمند شي لکه بيوجود چي وي چي يوعضو دبلي عضوي په درد، دردمنه کيږي دهغه لپاره نه ګالي بي خوبي ګالي، مسلمانان هم بايد همدغسي ديوبل درد محسوس کري، لکه پرتعمير چي يوه خښته بي پربله خښته ولاړه وي، يوه خښته بله خښته ټم کوي، دمسلمانانو ترمينځ هم بايد دغسي دوروروګلوي اواخوت فضاوي چي کله هم دهغوي ترمينځ شخړي راپيداشوي ، جګړه پيل شوه ، بايد دهغوي ترمينځ روغه جوړه وکري خودروغي جوړي په دوران کي بايد دالله (ج) نه وويريږي ترڅويه تاسو باندي رحم وشي .

* يا ايها الذين امنوا لايسخرقوم من قوم عسى ان يكونوا خيرا منهم ولانساء من نساء عسى ان يكن خيرا منهن ولاتلمزوا انفسكم ولاتنابزوا بالالقاب بئس الاسم الفسوق بعد الايمان ومن لم يتب فاولئك هم الظالمون *

٤ مخ

بيزاري کمونيست ها ازکمونيزم

کارمل وکشتمند ميخواهند تاراه ورويش باداران روسي شان را درافغانستان پياده کنند واگر هدايت بادار درزمينه نمي بود طبعاً که اظهارات آندو درحقيقت حمله آشکار به عملکردهاي رژيم تجيب بود و نجيب هم چون سلفش کارآندورا بايد يکطرفه ميکرد . مگربحران کنوني که کمونيزم جهاني درمجموع باآن مواجه است ،درنظرکمونيست هاايجاب چنين عقب نشيني هاي ارتجاعي راميکند. اگرمساله چنين باشد ، نبايد ازاظهارات کمونيست ها برضد کمونيزم دلخوش کنيم وبايست بازيرکي وتدبيردربي وارد آوردن آخرين ضربه برپيکر ضعيف وازحال رفته کمونيزم باشيم . واگر اظهارات کارمل وکشتمند ناشي ازآن باشد که آنها سرعقل آمده اند وازبطلان انديشه سخيف مارکسيزم متيقن گرديده اند، دراينصورت هم بايست برحذرباشيم که ندامت ازکمونيزم ورژيم هاي کمونيستي درقلمرو نفوذ کمونيست ها باورکردني نيست وهمچو ژيست ها فقط بخاطراغوا وفريب مسلمانان است .

کارمل وکشتمند از دارودسته اي بيدين وخائيني به شکايت مي پردازند که خودشان باني وگردانندہ آن اند وبوسيله همان دارودسته وطن فروش دوازده سال باحيات ، آبرو، مال، آزادي ومقدسات مردم بازي کردند وپرونده جنايات اينډو بحدي قطوراست که ديگرهيچ موردي براي اغماض وگذشت درآن گنجايش ندارد .

کارمل وکشتمند دوازده سال پيش سواربرتانکهاي روسي درپيشاپيش قشون سفاك سرخ وارد افغانستان گرديدند تابزعم خودشان مخالفين راسرکوب وانديشه کمونيزم رادرافغانستان پياده کنند ، ولي امروزکه باردیگر ازاستراحتگاه ارباب بکابل مي آيندستراتيژي جديدي ارائه ميدهند وبابه اصطلاح (مطابق نرخ روزنان ميخورند) يعني ازحزب کمونيست خارج مي شوند ، تجاوزنظامي روسها رابه باد انتقاد ميگيرند وخواهان حکومت ديمکرات ولبرال به شيوه غرب درافغانستان مي شوند، طريقه ايکه خودروسها نيز درروسيه وديگرکشور هاي اروپاي شرقي آنراقبول کرده اند .

ببرك وکشتمند ازخيانت تاريخي دعوت روسهابه افغانستان وآمدن درپيشاپيش لشکرسرخ نمي شرمند وميگويند که ما درآنوقت مخالف مداخله نظامي روسها بوديم ولي حرف ماراکسي قبول نکردوحتي سه مرتبه استعفادادیم ، مورد پذيرش قرارنگرفت !!

فاعتبروا يااولي الابصار.

شهادت
بیانگر عقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر
تلفون : ٦٢٧٨٩ - ٣٠٢٢٤ پشاور
پوست بکس (١٤٦٥) یونیورستي تاون - پشاور

نبوي ارشاد

یوسړي دحضرت رسول الله صلي الله علیه وسلم حضورته راغي اوپوښتنه یي وکړه : اي رسول الله ! څه شي حج واجبوي ؟ حضرت وفرمایل : زاد اوراحله یعني دلاري لګښت اودحمل ونقل وسیله.

ترمذي وابن ماجه

دسروبي په ولسوالي کي دکمونیست رژیم یوه دتیلو ذخیره تباه اوڅلورپوستي فتحه شوي

کابل - میډیا د چنګاښ (۲۳)

دکابل ولایت دسروبي ولسوالي څخه په رارسیدلي رپوټ کي ویل کیږي چي دنوموړي ولسوالي سرښندونکو غازیانودروان کال دچنګاښ دمیاشتي په ۲۳ مه نیټه دبولږ بریالیو بریدونو په ترڅ کي چي دماهي پر دتنګي پرپوستو یي ترسره کړل دکمونست رژیم یوه دتیلو ذخیره تباه او څلورپوستي فتح شوي.

خبرځاي لیکي نوموړونومیالیو دووویشتویه دوران کي دکابل جلال آباد لویه لاره ترلي اودلاري په اوږدوکي یي یوزغروال ټانګ ، یو جیپ موټراودخاد شیکي پوسرویس موټرسره له سپرلیوویجارکړي دي.

په خبرکي ویل شوي چي دکمونیست رژیم هوایي قواوو دماهي پر اوچګدلګ مرکز وته ترسختو بمباریو لاندي نیولي چي په نتیجه کي څلورکسه مجاهدین ټپیان اویوکس دشهادت لوړمقام ته رسیدلي دي،روح یي دي ښادوي . خبر زیاتوي مجاهدینودرژیم یوه لویه قوا چي غوښتل یي د جګدلګ لویه لاره خلاصه کړي په شاتیولي .

دیوه بل خبر له مخي دلاس پوڅي رژیم هوایي قواوو دننګرهار ولایت دحصارک د ولسوالي کلیوالي سیمي یي ترځپلو وحشیانه بمباریو لاندي نیولي چي له کلیوالو مجاهدینو څخه ګن شمیر ټپیان او(٥) کسه دشهادت لوړمقام ته رسیدلي

سلطان علي کشتمنداز حزب کمونست استعفا داد

وي علت استعفاي خودرا طي مصاحبه یي که باراديو بي بي سي انجام داد«عدم رهبریت سالم درحزب ، عدم اعاده حقوق ملیت هاي کوچك ساکن افغانستان توسط رژیم ونابساماني هاي اجتماعي توصیف کرد .

موصوف افزود حزب به اصطلاح وطن که ادعاي دیموکراسي و آزادي رامیکند، به شکل دیکتاتوري اداره مي شود ، وهیچ نوع آزادي درآن وجود ندارد، واکثریت اعضاي آن را پشتون هاتشکیل میدهد .

نامبرده درمصاحبه خود افزود:وي با پیشنهاد حزب وحدت اسلامي که مقرآن درایران است ، موافق بوده وخواهان سهمیه خاص براي اقلیت هاي مذهبي ولساني میباشد ، و لي ارتباط خودرا بااین حزب ردکرد .

افغاني مهاجرین په تخریبکاریوکي ملوث نه دی

اي ، جي ، سرحد

پیښور :

دسرحدي ایالت دپولیسو مشرسیدمسعودشاه دغه فکرغلط اوبي بنیاده وګاڼه چي ګواکي افغاني مهاجرین په اکثروچرمونوکي ملوث دي، دپولیسودغه مشرداسلام آباد اوراولپنډۍ له څینو خبریالانو سره په مرکه کي وویل، چي دادپولني ددښمنانو دتبلیغاتو یوه برخه ده . هغوي هڅه کوي پدي کارسره دافغاني مهاجرینو اوځایي خلکوترمنځ تاوتریخوالي پیدا کي، هغه وویل، افغاني مهاجرین دبرښه خلك دي، هغوي په لاروهلو، ډاړو، اودتښتولوپه جرمونوکي هیڅ لاس نه لري، په ایالت کي دویري اچوني دپیښوپه هکله دپولیسو مشروویل د" کي جي بي " ، " را " او"خاد" ځري پدي بم ایښودلو اوتخریبکاري کي ملوث دي چي تراوسه پوري یي ۲۹۰ تنه وژلي اواتیاتنه څي زخمیان کړیدي ، هغه وویل دکابل حکومت په کابل کي بوتریبتي مرکزجوړکړي چي هلته تخریبکاران روزي اوبیایي مسکوته لیږي ، په مسکواوکابل کي له روزني وروسته تخریبکاران پاکستان ته رالیږل کیږي .

پیروزیهاي اخیرمجاهدین درسراسر افغانستان طي کنفرانس تشریح گردید

پشاور ۳۰ سرطان :

رؤسا ومسؤلین کمیته هاي نظامي هفت تنظیم جهادي مقیم پشاور طي کنفرانسي درمقر آژانس خبرگزاري (میدیا) فتوحات اخیرمجاهدین را به خبرنگاران داخلي وخارجي تشریح نمود ند، درین کنفرانس باتوجه به تلفات وخسارات رژیم مزدورکابل بعدازمداخله مستقیم نظامي روسیه تذکربعمل آمد که تا کنون ۳۵۰ طیاره شامل طیارات جنگي ترانسپورتي وکشف سرنگون شده و ۲۲۰۰ تانك وموتر نظامي رژیم ازبین رفته است . درصورتیکه رژیم قبل از تهاجم روسها کمتراز ۲۵۰قروند طیاره و ۲۸۰۰ عراده تانك ووسایل زرهي داشت .

درین کنفرانس همچنان به ادامه جهاد تا پیروزي نهایي اصرارنموده وتاکید کردند که به بخش نظامي جهاد توجه بیشتر مبذول دارند واز فتوحات مجاهدین در سایر جبهات افغانستان بخصوص ولایات لوگر ، میدان وردك ، پکتیا ، بدخشان ،بلخ ، کندز فاریاب ، هرات ، قندهار، ننگرهار ،ولغمان تذکر بعمل آوردند.

درین کنفرانس که هرماه یکبار دایرمیگردد حاجي نصرالله به نمایندگي از کمیته نظامي حزب اسلامي افغانستان شیرمحمد مسؤل ارتباط کمیته نظامي حرکت اسلامي ،معراج الدین مسؤل ارتباط نظامي جمعیت اسلامي ،محمدگل صدیقي مسؤل ارتباط محاذ ملي ،محمد کبیر مسؤل ارتباط نظامي حزب اسلامي مولوي خالص ،محمد موسي نماینده نظامي اتحاد اسلامي و حمیدالله رحیمي رئیس کمیته نظامي جبهه ملي نجات اشتراك داشتند، ساعت ۱۱/۳۰ بجه خاتمه یافت.

مجاهدین کشمیري ازآزاد ساختن سوامي انکارکردند

سرینگر :

درکشمیراشغالي تنظیمي بنام اخوان المسلمین گفته است تاوقتیکه هفت نفر ازاعضاي این تنظیم از زندان آزاد نه شوند، سوامي را آزاد نخواهد کرد .

سوامي رئیس شرکت کمپني هاي نفت هند است که چندي قبل توسط این گروه گروگان گرفته شده است این تنظیم دریك اعلامیه گفته است که گورنر کشمیربایدتا روزدوشنبه این اشخاص را ازززندان آزادکند، درغیرآن عواقب ناگواري خواهد داشت ومسئولیت آن بردوش دولت هند خواهد بود .

قراریك خبردیگر نماینده اخوان المسلمین دریك صحبت تیلفوني گفته است سه نفریکه توسط حکومت کشمیر رهاساخته شده یکي آن هم به تنظیم اخوان المسلمین ارتباط ندارد ، تاحال حکومت درجواب این اعلامیه چیزي نه گفته است .

قواي هندي هفت طفل کشمیري رابه شهادت رسانید

راولپندي:

درکشمیر اشغالي مظالم عساکر هندي روز بروز شدت میگیرد، به اندازه ایکه حال مطبوعات هندي نیز درمورد این مظالم سکوت خودرا شکسته اند .

جریدهٔ بنام " دي ویك " که ازدهلي جدید نشرمیگردد ازدوواقعه دلخراش وغم آلود ذکرمیکند که ازمظالم عساکر هندي برمردم کشمیر پرده برمیدارند . جریده درشماره جدید خودبعد از تذکر" بي عفت کردن زنها به شکل اجتماعي " علاوه میکند که مظالم روزبروزشدت میگیرد، عساکرهندي به قتل وقتال دست یازیده ازجمله درمتجبرپوره وچاري شري ده قریه رابمبارد کرده که اکثر باشندگان آن به شهادت رسیده همچنان درقریه مسلم گام شخصي بنام مرزاخان را درپیشروي مردم شهید ساخت و هفت طفل خوردسال‌را نیز درین قریه به این خاطربه شهادت رسانیده اند که به مجاهدین پناه میدادند .

من براي یك ماه به شوروي رفته بودم، ولي این میعاد تاپنج سال طول کشید . " ببرك کارمل "

من مخالف مداخله شوروي درافغانستان بودم " کارمل "

خبرگذاري فرانس پریس درزمینه گفتار رئیس سابق رژیم کابل که همزمان تجاوز قواي شوروي بداخل افغانستان ازطرف کرملین بکابل نصب گردید گزارش را به نشر رسانیده که اینك غرض آگاهي بیشتر تان آنرا بدست نشر مي سپاریم .

خبرگذاري مذکور چنین مینگارد رئیس اسبق رژیم کابل ببرك کارمل بیان داشته که اوبصورت تنهایي عامل خونریزي وتجاوز قواي شوروي درافغانستان نمیباشد درافغانستانیکه ~~سیزده~~ سیزده سال میشود جنگ جریان داره.

ببرك کارمل که ٦١ سال عمر دارد ماه گذشته ازمسکو دوباره وارد کابل گردیده است مذکور ضمن مصاحبه باخبرگذاري فرانس پرس صبح روزپنجشنبه گذشته بیان داشت .

اودرمدت پنج سالي که درشوروي بود علي الرغم منع برگشت اش دراین مدت تلاش مي نمود تاتبعید گردیدن خود را درآن کشور خاتمه بخشد.

خبرگذاري فرانس پریس هم چنان درگزارش خودذکرنموده است که مسکو بعد از اینکه قواي ارتش سرخ به افغانستان اعزام نمود ببرك کارمل رابه حیث رئیس جمهور رژیم درکابل نصب و مقرر کرد. تجاوز قوا ي آرتش سرخ به افغانستان درسال ۱۳۵۸ درماه جدي صورت گرفت

ببرك کارمل بتاریخ ١٤ ثور بروزشنبه درسال ١٣٦٥ به اصطلاح استعفا نموده به مسکو فرستاده شد وبجاي ان رئیس فعلي رژیم کابل نجیب قدرت را درکابل بدست گرفت.

خبرگذاري فرانس پرس هم چنان درگزارش خود میگوید ببرك کارمل فردیکه علت آمدن قواي شوروي را بداخل افغانستان مشروع وقانوني گفته بیان داشته که اکنون اومیخواهد جهت برقرارنمودن صلح درافغانستان کارنماید .

اوبه خبر گذاري فرانس پرس ضمن مصاحبه دونیم ساعته اش بیان داشته ، برگزاري انتخابات یگانه راهي درافغانستان میباشد که سیستم سیاسي

صفحه (٤).

نه وسیله نقلیه دشمن در پروان به آتش کشیده شد

پروان ١٣٧٠/٤/٣١

مدیریت ارتباط خارجه ریاست نظامي حزب اسلامي افغانستان به نقل از پیام مخابروي برادر انجنیر طارق مسؤل جبهه شفق ولسوالي جبل السراج ولایت پروان خبرمیدهد که مجاهدین مومن آنولایت بتاریخ ٢٧ /٤/ ١٣٧٠ طي یك عملیات متحد وهم آهنگ که درمنطقه تتمدره ولایت پروان وولسوالي جبل السراج بالاي کاروان هاي اکمالاتي رژیم که از حیرتان بطرف کابل درحرکت بود انجام دادند درنتیجه (٢) عراده تانك و(٨) عراده موترنظامي دشمن طعمه حریق ، (٩) نفر افراد دشمن هلاك و(٧) تن دیگر شان زخمي گردیدند . خبرعلاوه میکند : عملیات مجاهدین به شدت درمناطق مذکورادامه دارد.

نجیب الله به قافله شهداپیوست

باتاسف اطلاع حاصل کردیم که برادرنجیب الله دریك برخورد روباروي بادشمن به مقام والاي شهادت نایل گردید . " روحش شادباد "

شهید نجیب الله فرزند الحاج جگرن نصرالله درسال ١٣٤٩ درقریه حسین خیل کتب خیل ولسوالي محمدآغه ولایت لوگرچشم بجهان گشود. درکودکي بافامیل خویش راهي دیارهجرت گردید ودردیارهجرت به جواني رسید .

درسال ١٣٦٥ درصفوف برادران مجاهد جبهه خندق قرارگرفت وبجهاد مسلحانه علیه کمونیست ها آغازکرد ، وازهیچگونه مساعي وجدوجهد درراه خدا (ج) دریغ نمي ورزید، بالاخره بتاریخ ٢٤ر٤ر١٣٧٠ دریك عملیات پیروزمندانه برپوسته هاي ولسوالي محمدآغه درحالیکه وارده‌بیست ویکمین بهارزندگي خویش شده بود ،آماج مرمي دشمن قرارگرفت وباچندتن ازهمسنگرانش جام شهادت رانوشید .

دروسي فدراسیون اوقرغزستان ترمنځ یوه موافقه نامه لاسلیك شوه

مسکو - دچنګاښ ۳۱ مه

په رارسیدلي خبرونو کي ویل شوي چي دشوروي ددوو جمهوریتونو یعني دروسیي دفدراسیون اوقرغزستان جمهورریسانو دځپلو جمهوریتونو ترمینځ ددوه ارخیزو روابطو دټینګولولپاره یوه موافقت نامه لاسلیك کړیده دروسیي دفدراسیون جمهوررئیس بوریس یالتسن اودقرغزستان جمهوررئیس عسکرآقایوف دغه موافقت نامه پرون لاسلیك کړه دروسیي فدراسیون چي دشوروي ترټولو لوي جمهوریت دي موافقه وکړه چي سږ کال قرغزستان ته پراعشاریه دري ملیارده دالره پور ورکړي قرغزستان به ددغو پیسوته داستفادي لپاره دځپلو میوو اوترکاري دآماده کولو په مقصد فابریکي جوړي کړي ،قرغزستان ژمنه کړیده چي دروسیي په فدراسیون به میوه،ترکاري، وري ، پنبه ، دقره قول پوستکي اونورشیان خرڅ کړي .

یکهزارنفرمسلح وشش هزارغیرمسلح به مجاهدین پناه آوردند

هرات - ۳۱ سرطان :

راپور واصله ازولایت هرات حاکیست : به تعداد شش جبهه از علاقداري چشت شریف ولسوالي اوبه که به نسبت جنگهاي داخلي بارژیم کمونست پیوسته بودند ، بعداز شش ماه بامقداري سلاح ومهمات اضافي به مجاهدین تسلیم شدند .

راپور مي نگارد، افراد مذکورکه شامل یکهزارنفرمسلح وشش هزار نفرغیرمسلح میباشند به مجاهدین غندااسلامي منصوري واقع علاقداري چشت شریف با همه وسایل وتجهیزات خودبه مجاهدین پناه آوردند .

دافغاني ماشومانو لپاره په عربي‌متحده امارتونوکي یوه مدرسه پرانستل شوه

دچنګاښ ۱۸ :

دعربي متحده اماراتوڅخه دحزب اسلامي دنمایندګي مسئول محمد قاسم خبرراکوي چي دافغانستان د ١٤ کلن اسلامي انقلاب په اوږدوکي دحزب اسلامي دنمایندګي مسئول وړونه پدي هڅه کي وو، چي په دغه هیوادکي دافغاني زامنو دروزني لپاره افغاني مدرسه جوړه کړي ترڅودافغان بچیانو په خپله مورني ژبه (پښتو، دري) دیني اواسلامي تعلیمات زده کړي . بالاخره دزیاتو هلوځلو وروسته مسئولین پدي بریالي شول چي دمتحده اماراتوله حکومت څخه دنوموړي مدرسي اجازه ترلاسه کړي .

دامدرسه چي دمتحده اماراتو والعین به ښارکي پرانستل شویده تراوسه ترڅېرم پنځلګي پوري شاګردان روزي اوانشا ء الله چي په دي ورستیوکي به دنوموړي مدرسي تشکیل پراخه او له لوړیتولګیو څخه به برخمنه شي، ددي مدرسي په تاسیس کي دحزب اسلامي دنمایندګي پرمسئولینو برسیره دنورو یوره توافق لري موټر دشهادت ټول کارکونکي دنوموړو وروڼو څخه ددي مبارك کارلپاره پوره بریالیتوب غواړي. خداي ددوي دااسلامي دنده کومه چي دوي دهجرت په دیارکي ترسره کړي ورته اجرعظیم ورکړي .

قابل توجه

نسبت تذکرلفظ آیه هاي قرآني درتکریم ونگهداشت این شماره اهتمام نمائید

طي عملیات پیروزمندانه مجاهدین ،بازار انفارك شهرتاشقرغان بدست مجاهدین افتاد

سمنگان ١٣٧٠/٤/٣١

خبرگزاري میدیا به نقل ازیك منبع جهادي از ولایت سمنگان خبرمیدهد که مجاهدین بتاریخ ١٣٧٠/٤/٢٤ طي عملیات موفقانه بې پوسته هاي مناطق ، باغات گذره ، لوآباد ، بازار انفارك ولسوالي خلم ولایت سمنگان رابتصرف خویش درآوردند.

خبرعلاوه میکند : طي این عملیات (١٦) نفرعسکر وملیشه رژیم بشمول قوماندان آنها بنام شکور ،کود هلاك و(٨) نفر دیگر با سلاح دست داشته شان به اسارت مجاهدین درآمد.

طبق یك خبر دیگر مجاهدین روز بعدابن عملیات میدان هوایي شهر کندز را هدف سلاح ثقیله قرار دادند که درنتیجه یك دیپوي مهمات طعمه حریق گردیده عده بي از افراد دشمن کشته ومجروح شدند.

په بغلان ولایت کي دلاس پوڅي رژیم ٤ پوستي فتح شوي

بغلان دچنګاښ ۲۲ مه .

دبغلان ولایت مؤمنوغازیانو دنوموړي ولایت په بېلا بېلو سیموکي ځپل بریالي بریدونه پیل کړي اوکمونستي رژیم ته یي دراندہ تاوانونه اوړولي دي،په هغه رپوټ کي چي دنوموړي ولایت څخه ترلاسه شوي ویل کیږي: دروان کال د چنګاښ دمیاشتي په (۲۲) مه نیټه دبغلان ولایت ټوپخانیو غازیانو دپلخمري ولسوالي ،لرخاب ،دوشي ، کیلګي او خنجانوکمونستي امنیتي مرکزونه ترځپلو بریالیوبریدونو لاندي ونیول چي په نتیجه کي دلاس پوڅي رژیم ٤ پوستي فتح (١٥) کسه کمونستان مره او(٨) کسه ټپیان شول.خبر ځاي لیکي پدي عملیاتو کي له مؤمنومجاهدینو څخه (٣) کسه ټپیان او(٦) کسه نور دشهادت لوړمقام ته ورسیدل .

روح یي دي ښاد اویاد دي یي همیشه وي.

دسیاسي حل په نامه دهلوځلو یوازیني مقصددادي چي دمجاهدینو توجه دجنګ په ځاي خبرواتروته راوګرځي